مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبربری ٢٠٢٣/٠۴/١٠

# لوزونه تقديرونه

هغه ونه لا تراوسه ده ولاړه
چي يي سيوري ته موږ دواړو
د ګډ ژوند لوزونه وکړه
چي ترې لاندي په مرغو يي
ښنګ په ښنګ دواړه پراته وو
اوخوبونه مو د روڼ سبا ليدله :
*****
چي وړوکی شان مو کور وي
زما او ستا زړه پري ټکور وي
خير که ډير څه پکي نه وي
زموږ په مينه به سمسور وي
او زما او ستا د هيلو به وي ځاله
*****
څو وړوکي مو بچي وي
نازنين وي ګلالي وي
دوي مستی کوي شوخی کړي
زموږ ترې زړه کي خوشالي وي
او پري ښکلي زما اوستا وړه نړی وي
*****
ته د کور نوراونمک يي
پرتا ښکلی زموږ کور وي
له تا ما او زموږ بچو ته
زړو کي هيله وي او زور وي
او پر تا باندي آباد زموږ د ژوند هر ګوټ هر لور وي
*****
زه سهار وزمه ښار ته
تر مابنامه به خواری کړم
ستا او زموږ بچو لپاره
به د خلکو مزدوری کړم
او مابنام چي لالهانده
بيرته راشمه کاله ته
ستا خوږه موسکا مي ټول غمونه هېر کړي
*****
ته په مينه را غړی شي
ځلاند لمر زما د نړی شي
ستا له څو خوږو خبرو
زما ستومان غړي دمه شي
او دي زړه ته مي شيمه د سبا ورکړي...
بس همداسي په خوبنيو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولـئ

په ناپايه نيکمرغيو
تېر شي ډېر مياشتي کلونه
او د ژوند کاروان په تاو وهي مزلونه
*****
زموږ بچي واړه رالوی شي
د دوي خپل بچي پيدا شي
زه او ته دواړه زاړه شو
زه نيکه شمه ته نيا شي
خو زموږ په زړو کي مينه لا هماغسي وي ځوانه
*****
اخ افسوس د زړګي سره
څه خبروم څه خبر وو
چي تقديروږ ما او تاته خدازده څه برخي ليکلي ...
*****
اوس هم دا دی د زړه سره
پس له ډېر ډېرو کلونو
زه همغه ښار ته راغلم
همهغي وني ته ګراني
په چورتونو کي ډوب ، چوپه خوله زه ناست يم
*****
مخامخ وني ته ګورم
را ياديږي تېر وختونه
هاغه زما او ستا خوبونه
هغه زموږ پاخه لوزونه
او پر زړه مي جوړ ناتاردی دغمونو حسرتونو
*****
په حسرت و ځانته وايم
خدازده څه وشوه څه وشوه
چي ها ټول خواږه خوبونه
پوښنا کړه تقدير واړه ...
*****
په حسرت وځانته وايم
خدازده څه وشوه څه وشوه
چي ها زما ابدي مينه
زما نه شوه له ما لاړه
او زما مخي ته دا اوس هم
هغه ونه لا تر اوسه ده ولاړه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ